الدرس الثاني

انواع النجاسة

دوهم درس

د ګندګۍ قسمونه:

( ا ) واړه بول او لوئی بول .

(ب) ودی: داسپيني ټينګکي اُوبه دی ، چی د واړه بولو نه مخکښې يا روستو د انسان دعورت نه خارجيږی.

(ج) مذی : دا بهيدونکي سليخ ناکي اُوبه دی، چی د خپلي ښځي سره د لوبو په وخت او يا د شهوت دراپورته کيدو په وخت کښې د انسان دعورت نه خارجيږی.

(د) مني : هغه ماده ده چی په شهوت سره د بدن نه په ټوپ وهلو سره خارجيږی چی نجسه نده ، البته که تازه وی وينځلی به شی، اوکه وچه وی نو ګرول ئي مستحب دی.

(ذ) هغه څاروی چی دهغوی غوښه خوړل شرعا جائز وی ، د هغوی متيازی او غوشيان نجس ندی په نسبت سره هغه څاروو ته چی د هغوی غوښه خوړل شرعا جائز نوی ، دهغوی متيازی او غوشيان نجس دی ، که د بدن يا جامی سره ولګی ددی وينځل او زائله کول ضروری دی .

(و) وينه د حيض (ماهواري بيمارئ) وی او که دنفاس (دبچی دپيدائش نه پس وينه) وي .

او مذی چي په کپړه ولګی د هغی دپاره د اُوبو چړکاؤ هم کافی دی.

**دګندګی (نجاست) بعض حکمونه** :

(١)کله چی انسان سره څه ولګی او پدي نه پوهيږی چی دا پاک دی او که پليت د هغي په باره کښې تپوس کول لازم ندی ، او نه ورباندی وينځل شته دی ، ځکه چه اصل په څيزونو کښې پاکوالی دی.

(٢)کله چی انسان دمونځ نه فارغ شي ، او خپل بدن ياکپړو باندی څه ګندګی ووينی چی مخکښې ورته علم نه وو او يا علم ورته وو ليکن هيرشوی وی تری ، نو غوره قول دا دی چی مونځ ئی صحيح دی ، د يو انسان بدن يا کپړه کښې چی د ګندګئ ځائي ورک شي نو هغه باندی لټول لازم دی ، او کوم ځائي باندی ئی چي غالب ګمان وی هغه ځائی به وينځی ، ځکه چی ګندګی معلومه جُثه لري ، د هغي دپاره رنګ ، خوند او بوئی وی ، او کله چی د انسان غالب ګمان په يو ځائي هم رانشي نو ټولي کپړی به وينځی.